# RAHIM SHAH RAHIM, S FIRST CONTRIBUTION (RAJGANRA) TO THE PASHTO NOVEL

# پښتوناول ته د رحیم شاه رحیم وړمبۍ بخښنه ( راجګڼه)

Rashid Bacha*

**Abstract:**

Novel is popular genre of literature which delineates human life through fiction. This genre entered into Pashto literature in 19th century and has created many eminent novelists who have contributed excellent novels to the anthology of the literature. Some of these novelists belong to different areas of Malakand Division.Rahim Shah Rahim is the most prominent historical novelist of the productive area of Swat, whose three novels have been published and few more to be published in the near future. His novels are being praised and his new novels will certainly add to the anthology of Pashto historical novels.

**Keywords:** novel Rahim shah Rahim, Pashto first historical novel at malakand devisstion," rajganna"critical study,

ناول د عالمي ادب مقبول او هردلعزیز صنف دے چې پۀ بشپړه توګه د انساني ژوند د حقیقي اړخونو په افسانوي رنګ کښې ترجماني کوي. پښتو ادب ته دا صنف ادب په نولسمه صدي عیسوي کښې رانوتے دے او تر اوسه ئې ګڼ شمیر لیکوالان پیدا کړي دي چېې په مختلفو موضوعاتو ئې پۀ فن پوره معیاري ناولونه د پښتو ادب ځولۍ ته پیرزو کړي دي. په دغه لیکوالو کښې یو لویه ډله د پښتونخوا د تاریخي سیمې ملاکنډ ډویژن د بیلا بیلو سېمو سره علاقه لري. د ملاکنډ ډویژن ددې ناول نګارو قیادت د سوات د ګل ورینې، ادب پاله او مردم خیزې سیمې ښاغلي رحیم شاه رحیم کوي.

رحیم شاه رحیم په مجموعي توګه د پښتو د تاریخي ناول نګاري په باب یوه ستره نامه ده چې د ملاکنډ ډویژن د تاریخي ناول نګارۍ امام او سرخیل دے . په تاریخي موضوعاتو

---

* PhD Scholar Department of Pashto UOP

پچاپ د رحیم شاه رحیم درې ناولونه د پښتو په تاریخي ناول نګاري کښې د ستر مقام څښتنان دي ۔ " راجګڼه " د شاه صبب او د ملاکنډ ډویژن وړومبے تاریخي ناول دے چې د فن و فکر په باب د ستائنې وړ ناول دے۔

ددنیا په ټولوادبیاتوکښې په نظم " نثر " غالب شوے دے ۔ په انګریزي ادب کښې نظم د نثر په مقابله کښې په نشت حساب دے ۔ که په عربي ادب کښې نثر په نظم برے موندلے دے نو فارسي ادب کښې هم نثر د نظم نه ډیر وړاندي تلے دے۔ د اردو ادب هم دغه صورت حال دے چې د نظم په مقابله کښې نثر پله رجحان زیات دے۔صرف پښتو ژبه ده چې د نثر په میدان کښې ډیره ورستو پاتي ده۔

پښتانهٔ عموما د لیک سره او خصوصا په پښتو ژبه کښې د لیک اړخ ته ډېر کم رجحان لري او چې کوم په پښتو ژبه کښې د لیک هڅې کوي هغوي کښې زیاتره برخه د پښتو نظم پله مائله ده۔ پښتانهٔ کچري په ټوله نړۍ کښې لس کروړه فرض کړو ۔نو په دې لس کروړهٔ پښتنو کښې به په مشکله یو فیصد پښتانهٔ په پښتو ژبه کښې په شعوري ډول لیک کوي۔ ددې لسو کړوړو یو فیصد لس لاکهه جوړیږي۔ او زما یقین نهٔ شي چې لا په پښتو ژبه کښې به لس لاکهه لیکوالان د لیک شعوري هڅې کوي۔خو که فرض کړه دا اومنو چې دا وخت د پښتو ژبې لس لاکهه لیکوال موجوددي ۔ څوک چې په پښتو کښې لیک کوي نو یقینا په دې لس لاکهه لیکوالو کښې به اوویا فیصده لیکوال نظم پله رجحان لري یعني په دې لس لاکهه لیکوالو کښې اووه لاکهه شاعران دي چې په منظومواثارود پښتوادب پنګه درنه وي او پاتي دري لاکهه لیکوال د خپلو قلمونو په سوب د پښتو منثورادب ته بخښنې کوي ۔ چې د نړیوال ادب په مقابله کښې " په اوړو کښې د مالګي برابر " هم نه دي ۔ پښتانه عموما شعر پله ډېره توجه لري۔ زه لکه د افلاطون شاعران د خپل ریاست نه ویستل نه غواړم ځکه چې شاعر زمونږ د جذباتو اواحساساتو ترجمان اود لوړ مقام او احترام لائق دے۔ خو انسان صرف په خپلو احساساتو او جذباتو ژوندے نه دے۔ ددې جذباتو اواحساساتونه پرته نورهم ډیرڅه دي چې د هغي بیان اواظهارد شعر په لطیفه پیرایه کښې نشي کیدے اود هغي د پاره د نثرلمن ډېره موزونه او مناسبه ده۔ ځکه چې د شعرلمن ډیره تنګه ده۔ دلته په اشاروتو،کنایاتو او تشبهاتو کښې مطلب بیانولے شي۔ ولې نثر ددغه انساني جذباتو او احساساتو رابرڅیره کولو د پاره زیاتي اسانئ پیدا کولے شي۔

نثر په فني توګه ډېر پراخه وجود لري. په دې ادبي توکي کښې په مختلفو موضوعاتو په اسانه او روانه پیرایه کښې قلم چلیدے شي. مذهبي یا فني کتابونه اوږدې اوږدې روماني، اصلاحي، تاریخي اوپه داسې نوروبلها موضوعاتو مشتملې قیصې، ادبي، سیاسي، معاشي او سائنسي مضمونونه مقالې او د قیصه ایزادب زړۀ راښکلونکي اصناف وغیره ډېر په زړۀ پورې لیکونه د نثر په پراخه لمن کښې ځائیدے شي.

خو د بده مرغه که یو اړخ ته په پښتنو لیکوالو کښې د پښتو نثر پله رجحان کم دے نو بل پله په دغه اندازتاً درې لاکهه نثرنګارانو کښې په دریو کښې یوه حصه لیکوال چې په دغه حساب به یو لاکهه جوړیږي به د پښتو دقیصه ایزادب په اصنافو کښې په لیک شعوري هڅې کوي. چې پکښې ناول ، ډرامه او افسانه شامل دي. بیا د افسانوي ادب په دې مذکوره توکو کښې اکثر لیکوال د افسانې په صنف کښې ډېره دلچسپي لري او نور اصناف خصوصاً ناول لکه د یتم بې اسرې پاتې دے.

ناول د داستان د خیټې نه زیږیدلے د قیصه ایز ادب په زړۀ پوري صنف دے .او که داسې اوئیلے شي چې ناول د داستان ترقي یافته شکل دے نو هیڅ مبالغه به نۀ وي، ځکه چې ناول اوداستان په خپل مینځ کښې ډېر مشترک اقدار لري لکه د قیصې عنصر، د واقعاتو تړون او سسپنس داسې عناصر دي چې ناول د داستان سره جوتوي. دې سره سره ناول ځنې امتیازي عناصر هم لري چې دهغې په بنا ناول د داستان نه د ممتازه حثیت خاوند ګرځوي.

په دې باب ګڼ بحثونه شوي دي. ښاغلي پروفیسرډاکټر حنیف خلیل په خپل کتاب " پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه" کښې په دې حقله لیکئ.

> "ناول د داستان ترقي یافته شکل یا نوے شکل دے. دې دواړو اصنافو کښې د قیصې د حرکت نه علاوه ډېر مشترک خاصیتونه هم شته چې دلته ئې مونږ وضاحت کوو خو په مختصر توګه دا وئیل شاید ځائ ولري چې ناول د داستان نه زیږیدلے صنف دے ، د داستان خراش تراش د ناول په شکل شوے دے. د داستان ارتقائي صورت د ناول په کړۀ وړۀ کښې لیدے شي او د داستان جدیدترین شکل ناول دے د داستان او ناول مشترک خصوصیات دا دواړه صنفونه یو بل سرې تړي بلکې دغه خصوصیات د دواړو صنفونو ترمینځه حثیت لري[۱] "

د ادب د نورو ګڼو اصنافو په رنګ ددې صنف ادب ناول هم هر محقیق، نقاد او ادیب د خپلې مطالعې،فکر او پوهې په بنا جدا جدا تعریفونه کړي دي. د مغربي او مشرقي ادب سترو ادیبانو، محقیقینو او نقادانو ورته په جدا جدا زاویو کتلي دي او په دغه بنا ئې د ناول په باب یوه رائے قائمه کړې ده.

ناول هنر او سفر" کښې ډاکټر شیر زمان طائزےد ناول پیژندګلو په حواله د " انکارټ کااان سائیکلو پیډیا" داسي کوي۔

> "Fictional prose narrative in which characters an situations are depicted within the framework of a plot" [ii]

> ترجمه: هغه فرضي نثري بیان چې د پلاټ په چوکاټ کښې کردارونه او واقعات تمثیلوي۔

د ناول د پیژندګلو په باب که مونږاووایو چې د انساني ژوند سره تړلي جذبات او احساسات په داسي فني پیرایه کښې پیئل چې د حقیقي ژوند بهر پور عکاسي کوي اود لوستونکو پرې حقیقي مینه ماتیږي "ناول " بللے شي. په یومکمل او معیاري ناول کښې دحقیقت نګاري سره سره د ناول ټول فني لوازمات په پوره توازن سره ځائے کړے شوي وي. ناول نګارخصوصاًدپلاټ،کردارنګاری،تلو سي،او منظر کشي په زریعه د ادبي تنده غرو د تندي ماتولو ګران کار ترسره کوي.

دپښتوپه نثري ادب کښې عموماً او په افسانوي ادب کښې خصوصاً د ملاکنډډویژن د تاریخي سمي د لیکوالو لویه برخه ده چې د افسانوي ادب دمختلفو اصنافو په جامه کښې په قابل قدر موضوعاتو لیکلي شوي فن پاري ئې د پښتو ادب ځولۍ ته ډالي کړي دي او ډالۍ کوي. په دغه لیکوالو کښې یوه ډله د پښتو ناول په صنف کښې په شعوري ډول د قدر وړ اضافې کړي دي او لګیادې کوي چې سرخیل ئې د ملاکنډ ډویژن د سیمې سوات اوسیدونکے ښاغلي رحیم شاه رحیم دے.

## رحيم شاه رحيم ژوند او فن:

رحيم شاه رحيم چې د مينګورې سوات د ښاغلي عقلمند خان په کور کښې په څلورم اپرېل ۱۹۵۴ کښې سترګې غړولې وې - د سوات د مردم خېزې خاورې دې بچي ابتدائي زده کړه خپل کلي د سکول نه ترلاسه کړې ده په کال ۱۹۸۲ ء کښې د ګورنمېنټ سکول نمبر ۱ مينګورې نه لسم جماعت پاس کړو-شاه صېب د سکول د زمانې راسې په ادبي هلو ځلو کښې په باقاعدګۍ سره برخه اخسته -د سيمې د سترو ادبي شخصياتو سره د شاه صېب رابطه د سکول د طال علمۍ د زمانې نه وه-شاه په ادبي لحاظ د خدائے بخښلي فضل الرحمن فېضان مريد ؤه-د هغوي نه به ئې د شعر وادب په حواله اصلاح کوله-د لسم نه پس رحيم شاه رحيم د ثانوي تعليم د حصول د پاره په پوسټ ګرېجوېټ جهانزېب کالج سېدو شريف کښې داتله واخسته-په کال ۱۹۸۰ ۶ کښې ئې د اېف اېس سي سندترلاسه کړو-د اېف اېس سي کولو نه پس شاه صېب د سائنس د اړخ نه ادبياتو ته ستون شو او په کال ۱۹۷۸۶ کښې ئې هم دغه کالج نه بي اے اوکړه-

په کال ۱۹۸۰ ۶ کښې ئې د اعلیٰ تعليم سند د ايم اے پښتو په کولو سره د پېښور پوهنتون نه واخستو - وروستو ئې ايم اے ( اردو ) او ايم اے ( اسلاميات ) سندونه هم ترلاسه کړي دي - شاه صېب د خپل عملي ژوند شروع په مسلم کمرشل بېنک مکښې د کېشئر د عهدې نه په کال ۱۹۷۸ ء کښې کړې وه چې وخت په وخت د شرقي په پړوو د ختلو او تر د بېنک د افسرۍ ورسېدلو او تر اخري ساه پورې هم د دې شعبې سره منسلک ؤه -

رحيم شاه رحيم د پښتو ژبې ستر شاعر ،نقاد ،تذکره نوېس او د اعلیٰ پائې ناول نګار ؤه-د رحيم شاه رحيم درې شعري مجموعې ،پکړې،غرځنۍ او زلزې په نوم چاپ دي چې د مقصديت د عنصر سره سره فني ښکلا هم لري- " سوات نامه جواب نامه " د شاه صېب تنقيدي کتاب دے چې سترخوشحال خان خټک د شهره افاق کتاب "سوات نامه" په ځواب کښې ليکلے ؤه - او په جون ۲۰۰۲ ۶ کښې په وړومبي ځل د شعېب سنز پبليشرجي ټي روډ مينګوره سوات نه د ۱۵۳ مخونو په کتابي شکل کښې چاپ شوے دے - رحيم شاه رحيم پرې خپله سريزه ليکلې ده او بيا ئې د "سوات نامې "منظومه جواب نامه پيلې ده او دغه شان ئې د خوشحال خان د اعتراضاتو ځوابونه کړي دي-

"واورېنې څوکې"او غتہ خزانه د رحيم شاه رحيم دوه تذکرې دي چې پکښې د سوات او ملاکنډ ډويژن شاعرانو د ژوند حالات او د کلام نمونې وړاندې کړې شوې دي-په " واورېنې څوکې" کښې د اووه اتيا شاعرانو د ژوند حال او د شعر نمونې شاملې دي چې پرې رحيم شاه رحيم پخپله يو جامع او محققانه ديباچه هم ليکلې ده-چې ئې پکښې د دې سيمې د ادبي تاريخ بيان کړے دے- دويمه تذکره "غتہ خزانه " په کال ۲۰۱۵ ؁ کښې د يونيورسټي بک ايجنسي له خوا خور شوے دے چې ټوله تذکره په ۳۲۴ خواوشا مخونو مشتمل دے چې د پښتونخوا سترو اديبانو پرې ادبي او تاريخي ليکونه کړي دي-چې پکښې د رحيم شاه رحيم د مقدمې نه پرته د اباسين يوسفزي ليک "ورکه موندلې غتہ خزانه" د ښاغلي ضياءالدين يوسفزي ليک "رحيم شاه رحيم تحقيقي زيار" او د ښاغلي فضل ربي راهي ليک " د رحيم شاه رحيم په ژوند يو نظر "شامل دي -په دې تذکره او تحقيق کښې د اووه څلوېښتو شاعرانو د ژوند حالات او د کلام نمونې شاملې دي-چې تر وړ تحقيق دے-د دې کتاب په باب فضل ربي راهي ليکلي دي--

> "د هغه موجوده کتاب " غتہ خزانه "يوه ادبي تحقيقي کارنامه ده -هغه خپل دا تحقيق کار چې اهم ګڼلو هغه د خپل ژوند يوه برخه دې مهم کار ته وقف کړې وه او ددې ذکر به ئې ډېر په فخر سره کولو-په دې کتاب کښې هغه د ملاکنډ ډويژن او په خصوصي توګه د سوات د هغه نامتو شاعرانو د ژوند حالات او د کلام راغونډ کړے دے-کوم چې په خپلو وختونو کښې مشهور وو ولې د زمانې د وړو د هغوي په ژوند او شاعرۍ د ګمنامې پردې خورې کړې وې[iii] "

رحيم شاه رحيم په بنيادي توګه د اعلیٰ پائې ناول نګار دے -د ناول نګارۍ په دې وېړ مېدان کښې هغوي تاريخي ناول نګارۍ پله ټوله توجو ورکړې ده-او تر دې وخته ئې درې تاريخي ناولونه ،راجګنړه ،بي بي مبارکه او سکندر اعلظم ليکلي دي-رحيم شاه رحيم د ملاکنډ ډويژن د سيمې نه وړومبے ناولنګار دے چې پښتو ادب ته ئې د پښتو د دې سيمې ته وړومبے تاريخي ناول بخښلے دے.

رحيم شاه رحيم د ښاغلي احمد دين طالب ديوان هم د "ديوانِ احمدين طالب " په نوم مرتب کړے دے او پرې ئې پوره تحقيقي مقاله هم ليکلې ده-د رحيم صېب بل اثر د "انوار د سهېلۍ" په نامه په کال ۱۹۹۱ء کښې د اسلام بک سټور نه خور شوے دے-دا د عبدالغفور قاسم ليکلے کتاب دے چې د پښتو

څانګې ترمخه خور شوې دے۔دغه رنګ د شاه یو شمېر اثار د چاپ په انتظار دي لکه ، سلګۍ ، سبا ، سبر خوشحال غازي او د ګودر ماښام، ناول په صنف کښې لنډې او اوږدې قیصې ، یادونه وغېره۔

دغسې سور ګلاب ، دیوانِ رحیم ، اوښکې او مسکا ، کلا رحیم، سپرلي ته انتظار او دوه نورې بې نومه مجوعې لا د چاپ په انتظار دي - د هغۀد ناچاپو اثارو په باب دریاب صېب لیکلي دي۔

"په دغه ناچاپو قلمي اثارو کښې څه خو د رحیم شاه د شاعرۍ دي څه ناولونه دي،څه دتحقق سره تعلق لري اوڅه پکښې تالیفات دي - د شاعرۍ په لړکښې چې د هغه کوم اثارد چاپ په انتظاردي په هغو کښې اوښکې او مسکا ، کلا رحیم ،سور ګلاب ،سپرلي ته انتظار ،دیوان رحیم او دوه بې نومه مجموعې شاملې دي۔دغه شان یادونه د هغه خاطرې دي چې د خپل ژونداهم واقعات ئې پکښې ډېر په زړۀ راښکونکي نثر کښې په تفصیل سره لیکلي دي۔د دې نه علاوه د رحیم شاه دوه ناولونه او یو ناولټ هم په ناچاپه حالت کښې شتون لري۔په ناولونو کښېیو ناول سلګۍ دے او بل سبا نومېږي۔ناولټ له ئې د ګودر ماښام نوم ورکړې دے۔[iv]

ددې نه علاوه رحیم شاه رحیم په شلګونو کتابونو سریزې ،مقدمې او دیباچې لیکلې دي چې د شاه صېب په علمي او ادبي قد اوري ژوندي او نهٔ پناه کېدونکي ثبوتونه دي۔دا ادب دا ستر او روښانه ستورے د کال ۲۰۰۸ء د دسمبر د میاشتې په پنځمه نېټه د ادب د اسمان نه پناه شو او خاورو ته وسپارلے شو۔ښاغلي فضل ربي صېب د هغوي د وفات په باب لیکلي دي۔

"پښتو ژبې او ادب دا خوا خوږے او خدمت ګار زمونږ نه په **۵** دسمبر ۲۰۰۸ء کښې ناڅاپه جدا شو او پښتو ادب کښې ئې یوه داسې خلا پرېښوده چې هغه به تر مودو مودو ډکه نۀ شي" ۔[v]

خدا ے بخښلي رحیم شاه رحیم د خپل معیاري ناول نګارۍ په وجه پښتو ادب کښې د ستر مقام څښتن دے۔

رحيم شاه رحيم د ملاکنډډويژن په خاوره د پښتو وړومبے تاريخي ناول نګار دے چې په دې صنف ناول کښې ئې په تاريخي موضوعاتو تزدې وخت درې په فن پوره تجربې کړي دي چې د کاميابۍ او کامرانۍ په باب ختلي دي. په دغۀ تاريخي ناولونوکښې وړومبے تاريخي ناول " راجګېره " دے چې رحيم شاه رحيم ئي د ملاکنډ ډويژن د تاريخي ناول نګاري امام ګرځولے دے..

## د ناول " راجګېره " فکري جائزه.

ښاغلي رحيم شاه رحيم د پښتو ادب او خصوصاً د ملاکنډ ډويژن په سيمه د پښتو تاريخي ناول نګارۍ په حواله يوه ستره نامه ده. د دې صنف په مېدان کښې يو ځانګړے حېثيت او مقام لري. ښاغلي رحيم شاه رحيم ته د ملاکنډ دسيمې د اولني تاريخ نګار اعزاز حاصل دے. موصوف تر دې دمه درې تاريخي ناولونه پښتو ادب ته پېرزو کړي دي. چې په کښې د هغوي وړومبےناول "راجګېره " د پښتو تاريخي ناولونو د فن او فکر په حواله رهنمائي کوونکے ناول دے.

دا ناول سوات ته د دين اسلام رڼا راراسېدلو او د محمود غزنوي د اسلامي لښکرو په دې سيمه د اسلامي مذهب دخورولو په تاريخي واقعاتو اړه دے. چې د ښاغلي رحيم شاه رحيم د تخليقي او تحقيقي هنر رنګ په کښې لکه د نمر ځليږي.

په کال ۹۹۹ء کښې چې محمود غزنوي ابن سبکتګين دغزني په تخت کښېناستو نو لومړے ئې د هندوستان لوري ته نظر ښخ کړو. د هندوستان په زرخېزه او معدن خېزه خاوره د ګردې نړۍ د فاتحينو تاختونه د تاريخ په پاڼو کښې نن هم ژوندي دي. د غزني حکومت هم خپلې پښې ترهندوستانه راغزولي وي. دسوات په تاريخي او زرخېزه سيمه د هغه نظر ؤه. هغه خپل مړنے او بهادر جرنېل پير خوشحال د سوات په مهم ولېږو چې د راجه ګېرامي خبره ئې اوکړه. ډاکټر شېرزمان سيماب صېب په دې حواله ليکلي دي.

"د محمود غزنوي د فتوحاتو په دې سلسله کښې هغه د باجوړ په لور د سوات سيمې ته هم راغلے ؤه. او دلته ئې د سوات په سيمه د راجه ګيرا د اقتدار شمع مړه کړه. او تل دپاره ئې د اسلام د نمر لازواله پلوشې خورې کړې[vi] "

ښاغلي پیر خوشحال د خپل مضبوط عزم د خپل سرخېل محمود غزنوي د حوصه افزایئ او د مونچا د یوې "راجگنړه" د مینې او خلوص په سوب د راجه ګېره مچ مېږو فوځ له ماتې ورکړه او هغه د سوات د ګل ورینې سیمې نه په تېښته کښې کامیاب شو۔

د راجه ګېرا د تېښتې نه وروستو د سوات سلطنت د محمود غزنوي د حکم او د پیر خوشحال د تورې لاندې ؤه۔ د تاریخ ریاست سوات مصنف محمد آصف په دې باب لیکلي دي۔

"راجہ گیرا کی شکست اور قتل کے بعد بدھ باشندے جنہوں نے اسلام قبول کیا، بھاگ کر کوہستان چلے گئے۔ محمود غزنوی کے ہمراہ اس جہا دمیں پٹھانوں کے دلہ زاک سردار یحیٰ خان اپنے قبیلے سمیت شامل تھا۔ اس کے علاوہ سواتی پٹھان بھی شامل دے۔ لہذا سلطان محمود غزنوی نے سوات میں سواتی اور دلہ زاک پٹھانوں کو آباد کیا اور یہ علاقہ پختونوں کی تحویل میں دے دیا۔[vii] "

ژباړه: د راجه ګیرا د وژلو نه پس بدها اوسیدونکي کومو چې اسلام قبول کړے وو په تېښته کوهستان ته لاړل۔ د محمود غزنوي سره په دې جهاد کښې د پښتنو دله زاک قبیلي سردار یحیٰ خان سره د خپلې قبیلې شامل وو۔ د هغوي نه پرته سواتي پښتانهٔ د محمود غزنوي ملګري وو۔ په دې بنا محمود غزنوي په سوات کښې سواتیان او دله زاک پښتانهٔ اباد کړل او د علاقه ئې د پښتنو په ولقه کښې ورکړه۔

ښاغلي رحیم شاه ددې تاریخي ناول وچ کلک واقعات په روماني فضا کښې دومره په زړهٔ راښکونکې پېرایه کښې بیان کړي چې د قاري ترې شوکېدل زړهٔ هیڅ کله نهٔ غواړي۔

## د ژوند فلسفه:

ناول نګار ښاغلي رحیم شاه رحیم په دې تارېخي ناول کښې د اظیم فاتح مسلمان سلطان بت شکن محمود غزنوي حقیقي تارېخي واقعات چې خصوصا د پښتنو د ژوند او ددې سیمي سره ژور تعلق لري په ادبي پیریه کښې بیان کړي دي چې د ګړدي نړۍ په هر تارېخي اثر کښې ئې ذکر موجود دے۔ د محمود غزنوي د لښکر د پښتون سپه سالار پیرخوشحال مړانه او بهادري ناول نګار ددې ناول د پلاټ برخه جوړه کړي ده چې پکښې د پیر خوشحا او د راجه ګیرا د لور مونجادیوي (راجگنړه) د مینې دلکش داستان هم بیان شوے دے۔ د پیر خوشحال او راجگنړهٔ د مینې دا داستان که هر څو د تاریخ په

پاڼو کښې ورک دے ۔ خو رحیم شاه په دې ناول کښې داسې بیان کړے دے چې نن هم د سوات د سیمې په غرونو کښې انګۍ او د دې سیمې په مقامي قیصو کښې ئې تذکرې موجودې دي ۔ د ناول نګار ترخیاله هم دغه د مینې جذبه وه چې "راجګنړه" د پیر خوشحال دپاره د پلار سلطنت قربان کړو او د مسلمانانو په کامیابۍ او کامرانۍ کښې ئې مرکزي کردار ولوبولو ۔

## د ناول " راجګنړه " فني جائزه ۔

د فن له رویه د رحیم شاه رحیم دا تاریخي ناول "راجګنړه" د پښتو ژبې د تاریخي او نیم تاریخي ناولونو نمائنده ناول دے ۔ چې د فن وفکر او د تکنیک په معیار ډېر پوره دے ۔ د دې ناول پلاټ کوټلے ، کردارونه ژوندي ،منظر کشي حسینه او فطري ،ژبه روانه او سسپنس د ستائیلو وړ دے ۔ او هم دغه فني خوبۍ دي چې د اعلیٰ فکر خاوند "راجګنړه ئې د معیار بلندو ته رسولې ده ۔ چ د دې ناول په فني جاج کښې په دې ټولو اجزاؤ بحث کولے شي

## مشمولات:

په کال ۱۹۸۹ء کښې دا ناول مینګوره سوات صوبه سرحد نه چاپ شوے دا ناول په یو سل پنځه نوي مخونو او نهه بابونو اړه دے چې تفصیل ئې په دې ډول دے ۔لښکر ،د سلطان خوب ،پیرخوشحال ،قلعه ژوند ،جاسوسي ،خواږه یادونه ،د غازیانو تدبیر ،د اوبو رتاز او یادګار ۔

ښاغلي ډاکټر محمد اعظم اعظم پرې مدّبرانه لیک د "راجګنړه فد سرخط لاندې ،سریزه پرې ښاغلي نواز طائر صېب لیکلې ده ۔ کتاب ،کتابت چارې ئې شعېب سنز بک سیلر اوریانه بازار مینګوره ترسره کړې دي ۔ چې دیو زر شمېره په حساب چاپې شوے دے ۔ بیعه ئې پرې صرف او صرف پنځلس روپۍ لیک ده ۔ رحیم شاه رحیم په علم دوستۍ او مقصدي ادب تخلیق نګارۍ باندې دلیل دے

## پلاټ:

د "راجګنړه ناول پلاټ په بنیادي توګه په تاریخي واقعاتو ولاړ دے ۔ چې فاتح هند ،بت شکن محمود غزنوي او د هغه د لښکرد سرخېلو د اسلامي فتوحاتو د واقعاتو احاطه کوي ۔ په هندوستان د

محمود غزنوي اوولس حملې چې په کښې د سومنات حمله د اسلامي تاريخ زرين داب ګڼلے شي. دا واقعات د ناول د پلاټ مرکزي واقعات دي. د دې سره نور ضمني واقعات لکه د خوشحال مينه محبت ،اسلامي اقدار ،او جنګي چالونه وغېره ضمني پلاټونه دي چې لوئے پلاټ ته تحريک ورکوي. او د پرمختنګ په لور ئې بيائي. د پلاټ په باب دا ناول "راجګنړه ښه کامياب ناول دے. چې ټول واقعات ئې لکه د ملغلرو د امېل په يو ښکلي ترتيب سره تړي.

## قيصه:

د "راجګنړه " ناول قيصه د محمود غزنوي د اسلامي فتوحاتو د سلسلې يوه نۀ شلېدونکې کړۍ ده. چې د تاريخ ټول کتابونه تري ډک پراتۀ دي. دمسلمانانو په تارخي اثارو کښې خصوصا او دپښتنو په تاريخي اثارو کښې وعمومادې واقعاتو شتون موجود دے. ولې دغه واقعات خشک او بورکوونکي دي او د "راجګنړه" قيصه زړۀ راښکونکې او ادبي ده.

د يولسمې صدۍ په شروع کښې دسوات د جنت نظيرې سيمې د محمود غزنوي د فوځي لښکرو حملې او جنګ مبارزه د دې ناول موضوع ګرځولے شوې ده. د محمود غزنوي د فوځ سپېه سالار پير خوشحال هندو راجه ګېرا ته شکست ورکول او د هغه د لور مونچا د يو "راجګنړه په محبت کښې ګرفتار کېدل او بيا د پير خوشحال د شهادت جام نوش کول او نور ضمني واقعات د دې ناول د قيصې عوامل دي.

ښاغلي اروابناد نواز طائر صېب د دې ناول د قيصې په حوالهي د دې ناول په سريزه کښې ليکلي دي.

> "د هغه تکل يو تاريخي ناول دے. کومې قيصه چې د مشهور مسلمان جرنېل او فاتح سلطان محمود غزنوي د دور سره تعلق لري دے نوي فاتح لکه څرنګ چې تاريخ مونږ ته ښائي په هندوستان اوولس حملې کړې وې په کومے کښے چه د سومنات تاريخي حملے ته ډېر لوے اهميت او شهرت حاصل دے. هم دا شان د يولسمے صدۍ عيسوی په شروع کښے يوه حمله محمود غزنوي په سوات هم کړےی وه. اګر چے د هغه په حمله نهه سوه کاله زمانه تېره شوه،ليکن په سوات کښې د محمود غزنوي حملې او راجه ګېرا

واقعې ته دومره شهرت حاصل دے. او مقامي خلق پير خوشحال او مونجا د يوې قيصه دومره په خوند رنګ سره کوي . او د مونجا ديوې په ښائست او حسن و نزاکت کښې داسې عجيبه واقعات بيانوي لکه چې دا نن پرون تېره شوې واقعه وي[viii] "

## کردار نګاري:

کردار نګاري نۀ صرف د ناول بلکې د افسانوي ادب د ټولو اصنافو دپاره لازمي جز دے. د کردار نه بغېر د قيصه ايز ادب اصناف وجود نۀ شي لرلے. لکه چې ښاغلے اعظم صېب په خپله تحقيقي مقاله کښې په دې حواله ليکلي دي.

"د ادب د هغو اصنافو دپاره کوم چې د قيصې عنصر لري. کردارونو وجود لازمي شے دے بې له کردارونو د ډرامائي او قيصې ادب هاو تصور نۀ شي کېدلے ځکه چې د قيصې ،ډرامائي يا ناول تعلق به څه نه شکل کښې د وګړو سره وي. او دغه وګړي به د قيصې کردارونه وي-[ix]

## پير خوشحال:

پيرخوشحال د دې ناول مرکزي کردار دے. چې د لوړې او طاقت ورې جثې خاونديو پښتون زلمے ؤه. او د ممحمود غزنوي فوځي رسايئ سرخېل وي. د " راجګنه " ناول قيصه تر پنځم باب پورې د سلطان محمود غزنوي په کارنامو او د هغه مقرب ملګري آياز په مدتبرانه مشهوره مشغله وه. د پنځم باب نه د دې ناول دا مرکزي کردار پيرخوشحال د ناول په ټوله قيصه حاوي شي. د پير خوشحال د جمال او جلال په باب ناول نکار ليدلي دي.

"دا عظيم فولادي انسان ستر قهرمان شخصيت پير خوشحال ؤو. دا رنګه سور سپين ،دنګه لوړه ،ځواني تقريباً د دېرشو کالو په عمر کښې يو ښائسته او ډولے زلمے ؤه. دهغه په سترګوکښې يو مقناطيسي کشش ؤو او په دې نظر کښې ئې يو بې قراره لټوه ؤه. محر آب ورځې اوږده نرۍ پوزه ،غټې غټې تمن اکې سترګې او ښکلے مخ ئې د هر

وخت به پرې لکه د يو ښائسته تالاب خاموشي خوره وه. دهغه شخصيت کښې د غرونو نه زيات استقلال ؤه او د اسمانه زياته بې چينې[x] "

د محمود غزنوي دا سپه سالار د خپلې جنګي مړانې جسماني طاقت او ذهني قابليت په باب مشهورؤه. په دې باب ناول نګار ليکلي دي.

"سلطان اول په زوردارو الفاظوکښې يو مختصر تقرير وکړو. بيا ئې د لاسونو په ټقا او د تورو په پړقا کښې پير خوشحال د فوځ سپه سالار مقرر کړو او خپل يو بهترين اس يوه توره او يو اعلیٰ نسل ښکاري. سپي ئې ورته په تجويز کښې ورکړل[xi] "

د پير خوشحال د سوات د هوډي ګرام د قلعه د فتحې دپاره او راجه ګيرا ته د ماتې په غرض خپل فوځ په دوو حصو کښې تقسيمول او د ښار نه د سوکړې پورې د قلعه د دېوالونو پورې ځان رسول او د راجه ګيرا کاميابه عاصره کول دا ټول واقعات د پير خوشحال د ژوندي کامياب کردار صفات دي.

په دې مهم کښې د پير خوشحال او د راجه ګيرا د لور موني دکوي ("راجګنړه) ملاقات او د مينې د اور تحريک کړې ده. د پير خوشحال د کردار په باب بي بي مريم ليکلي دي.

"پيرخوشحال دناول يو مړنےمرکزي کرداردے. چې د محمودغزنوي دهغې لښکر سرخېل دے چې د سوات د راجه ګيرا د قلعې د فتح کولو دپاره رالېږلے شوے وو. د دېځم مهم په دوارن کښې چې پنځم باب سره تعلق لري ،پيرخوشحال د راجه ګيرا ښائسته لور مونجاديوی ووينې چې ښائست ته ئې د چين ماچين ښاپېرۍ پسخېږي. او دواړه په يو بل مئين شي. پير خوشحال د خپلې مينې په زور مونجاديوی ("راجګنړه) خپلې عقيدې ته راوړي چې اخر کښې هغه خپل قام مذهب عقيدې او سراومال ته هم شا کړي .او صرف د مينې او د وفا په لار روانه شي.[xii] "

د پيرخوشحال جسماني ښائست،جنګي صلاحيتونه او اخلاقي روئې د مونجا ديوی په زړۀ کښې يو نۀ ورانېدونکے کورکړے ؤه. هغې په پير خوشحال زړۀ بائيللے ؤه. او وس هر څه په داؤ لګول

هغې ته هيڅ ګران نۀ وو . د پيرخوشحال د لښکرد کاميابۍ محاصره په ختمېدلو کښې د مونجاديوی لوے لاس ؤه چې د پيرخوشحال سره د منيې يو پوخ ثبوت هم ؤه .

هم دا د راجه ګېرا لور "راجګنه" وه چې پيرخوشحال ته ئې د قلعې په باب داسې معلومات او رازونه ورکړه چې د پيرخوشحال محاصره ئې کاميابه کړه . په دغه د راز خبرو کښې يوه اهمه او رازداره خبره د قلعې د اوبود بندېش مشوره هم ؤه .

"په قلعه دننه يو قيامت پېره ؤو . هر طرف ته بې چيني ،افراتفري او سپارلۍ عالم جوړ ؤو . د کله نه چې قلعه ته د اوبو سلسله قطع شوې وه . په قلعه کښې مېشته د هر بنده د امېد اخري تار شلېدلے ؤو . او هر چاته خپل مرګ او د تباهۍ ننداره د خپلو سترګو مخ ته په ډاګه ودرېدلے وه . د راجه ګېرا په لښکر کښې بدئي او مايوسي رو په رو خورېده . په هغوي کښې د دفاعي صلاحيت ماده ختمېده او مايوسي په کښې پېدا کېده ." [xiii]

د پيرخوشحال د کردار په رغونه کښې رحيم شاه رحيم د فني مهارت په اعلیٰ درجو ودرېدلے دے . د مړانې او بهادرۍ سره سره ئې دا کردار د حسن خلق په ښائسته خوبو هم مزين کړے دے - چې د يو مثالي کردار د پاره لازمي جزو وي.

## مونچاديوي:

مونجاديوي د دې ناول زنانۀ مرکزي کردار دے . چې رحيم شاه رحيم د دې کردار په نوم د دې ناول نوم هم ايښودلے دے . چې تاريخې او روماني خصوصيات لري.

د محمود غزنوي د لښکر په سوات د تاخت دا تاريخي داستان د مانجاديوي د دلکش کردار نګارۍ په ذريعه نور هم تاريخي شوے دے . مونجاديو څوک وه او د دې کردار څۀ تاريخي حېثيت شته او کنه؟ په دې باب ښاغلي نواز طائر صېب ليکلي دي چې .

"مونجاديوي څوک چې د راجه ګېرا نيازبينه لور او د دې ناول په مرکزي کردارونو کښې يو کردار دے . د هغې په نوم د ضلع دير منجائي او د سوات علاقه نېک هي خېلو منجه کلے اوس هم دوه داسې يادګاري کلي دي چه د تېر دور د تاريخ ياد ترې تازه کېږي. [xiv] "

مونجا دیوي د راجه ګېرا لور وي څوک چې د هوډي ګرام په ښار کښې د هندو سلطنت راجه وي. د هغې ښائست ته د کوه قاف ښاپیري حېرانېږي. ناول نګار د دې کردار ښائست په زړهٔ راښکونکې پېرایه کښې داسې بیان کړے دے.

"د راجه ګېرا د تخت دواړه غاړو ته کچه عمر دوه ښکلے ښکلے وینزے ولاړے وے. د ښۍ اړخ د جینۍ نه په لږه فاصله تقریباً د شلو کالو په عمرکښې یوه بله ښائسته او دومره ښکلې پېغله د سپینو زرو په تخت ناسته وه چې د هغې دف حسن او جمال کرشمو ته د خلقو سترګې برېښېدې. د دې ښائسته پېغلے په سر د سرو زرو یا د بادشاهۍ تاج پروت ؤو. تاج کښې رنګارنګ یاقوت او جواهرات ډېر په هنر مندۍ سره لګولې شوي وو."[xv]

د هوډي ګرام د قلعې د معاصرې په دوارن د خپلې سهېلۍ کلدرېپ سره وخت په وخت د قلعه په برجونو او بالاخانو خته او دمسلمانانو د فوځ نظاره به ئې کوله. هغه یوه ورځ د اس په شا سور ځوان لیدلے وو چې د لوړې ځوانۍ او موهلې فېشن ښکارېدو. د هغې په زړهٔ کښې هغه وخت د دې زلمي په باب رنګ رنګ خیالات برخېره کېدل خو دا یوه تماشه وه چې تېره شوهیوه شپه چې مونچا د بوېد خپلې دغې سهېلۍ سره پټه پټه د مسلمانانو د لښکر جاج اغستو له راوتله نو د پیر خوشحال سپاهیانو د ګرفتارۍ نه پس د سپه سالار پیر خوشحال مخې ته پېش کړه. او هغې په اول نظر پیر خوشحال ولیدلو نو په زړهٔ کښې ئې د مینې سمندر جوش وهلو.

"مونچا دېوې هم چې څنګه وه په اولنې نظر پیرخوشحال ته اوکتل نو د هغې زړهٔ یو ترک اوکړو. هغې تره فوراً خپلې دا خبر ورکړؤ چې دا خو هم هغه زلمے دے. وکم چے هغے د قلعه د سر نه په اس سور لیدلے ؤه" [xvi]

## مکالمه نګاري:

د کردارونو ترمېنځه رحیم شاه رحیم د خبرو اترو په دوارون د فن او معیار لمن چرته هم نهٔ ده پرېښودې. د یو کامیاب ناول دپاره د کامیابې مکالمه نګاري اشند ضرورت وي. او په دې فني توکي د رحیم شاه رحیم مکمل عبور حاصله دے. چې د هغې څرګند ثبوتونه دا دي.

"او هغې اووئیل: ولے تاته پته نیشته چې په مسلمانانو کښې د غټ کچ تمیز نیشته. سپه سالار او یو علم عسکري یو شان ژوند تېروي.

کلدېپ اووې..

"زه منم چه دغسے ده ولې د ځان سره د فوځي دستے بوتلو ،کچ او غټ څه تعلق د ے؟"دا خو یو فوځي مهم د ے ،د داسې خبرو خاص خیال ساتلے کیږي.

"مونجا د یوې بیا لاجوابه شوه. هغې په تجسس کښے اووے"

نو بیا څوک کېد ے شو؟

کلدېپ په لنډه خبره غوڅه کړه!

زیات نه زیات چرته خبریال به وو کېد ے شي د خپل سپه سالار د خوا څه پېغام عسکریانو ته راوړ ے وي[xvii] "

## منظر کشي:

د تاریخي ناولونو لویه خوبي منظر کشي وي. د تاریخي وا قعاتو دپاره مناظر جوړول یقیناً چې د ناول نګار نه پوره پوره توجو غواري.

منظر کشي د مادي ژوند عکاسي په ښه توګه کوي ناول نګار د تاریخي ناولونو په سوب د سؤونو کلونو واره واقعات او مناظر د لفظونو په ذریعه داسې په فنکارۍ سره بیانوي چې د لوستونکېو دپاره بیخي نوې وي. او د لوستونکو دلچسپي په کښې زیاتیږي.

ښاغلي رحیم شاه رحیم د ناول په فني لوازماتو او تکنیکي خوبو پوره پوره عبور لري. هغه چې منظر کشي کوم مثال په دې ناول کښې قائم کړ ے د ے هغه ته د پښتو او نورو ژبو ناول نګاران په چغه داد ورکوي.

"په دنگو دنگو غرونو يوه پرسکون خاموشي خوره وه. د باد نسيم نرمو او خوږو چپو ښائسته گلان خوزول. د صنوبر دنگې معشوق نما ونې چپ ولاړې وې. او دنرې بادونو نازکو چپو به ئې وړې وړې څانگې داسې په مزه مزه رپېدلې چې د لرې نهپ يو ښائسته معشوقې خپل عاشق ته ناز او ادگانې کوي." [xviii]

ناول نگار د پير خوشحال د فن هگه منظر چې هغه دقلعه په مخکښې ولاړ دے او د قلعه په باب سوچونه کوي داسې بيانوي .

"پير خوشحال د کېمپ مخے ته ايک يوځې په متجسس عالم کښې حېران دريان ولاړ ؤو ،د قلعه دنگو دنگو دېوالونو ته ئے په يو نقابي نظر کتل ،د هغه په زړۀ کښے د جذباتو يو ناتاري سېالب بهېدو او په مخ ئې د مختلفو تاثراتو چپې تلے راتلے" [xix]

د ارجه گېرا د قلعه د جشن منظر ناول نگار داسې بيانول .

"د جشن دستور دا ؤو چه په اوله ورځ به ټول سرغړي د راجه سلامي ته حاضر شول . د راجه د اوړد ژوند او ټول عمري بادشاهت دپاره په نېازونه اودونېتے شول. بها به وار په وار هر اچ مهاراج ته د خپلې لوري په خپل مناسبت سره ډالۍ وراندې کړې. راجهم گېرا به ټولو خلقو ته انعامونه ورکړل . د نوے کال د درے ورځنی خوشحالۍ او جشن باقاعده اعلان به اوشو . په اخر کښےبه راجه په خپل محل کښې د خپلې لوري ټولو کسانو ته يوه شاهي مېلمستيا ورکړه . او دغه نه پس به درې ورځې د شراب نوشی موسيقي او گډا محفلونه گرم ؤو [xx] "

## سراپه نگاري:

ناول نگار ځاے په ځاے د سراپه نگارۍ د فن هم معياري او پۀ هر اړخ مکمله مظاهره کړي ده لکه چې د ناول "راجگڼه " د مرکزي کردارونو په باب ئې ځاے په ځاے دا فن کمال ته رسولے دے. د دې ناول د هيرو کردار پير خوشحال په باب ناول نگار ليکلي دي.

"دا عظیم فولادي انسان ستر قهرمان شخصیت پیر خوشحال ؤو. دا رنګه سور سپین ،دنګه لوړه ،ځواني تقریباً د دېرشو کالو په عمر کښې یو ښائسته او ډولے زلمے ؤه. د هغه په سترګو کښې یو مقناطیسي کشش ؤو او په دې نظر کښې ئې یو بې قراره لټوه ؤه .محر آب ورځې اوږده نرۍ پوزه ،غټې غټې تمن اکے سترګے او ښکلے مخ ئې د هر وخت به پرې لکه د یو ښائسته تالاب خاموشي خوره وه. د هغه شخصیت کښې دغرونو نه زیات استقلال ؤه او د اسمانه زیاته بے چینې[xxi] "

ژبه:

رحیم شاه رحیم په خصوصي توګه د پښتو ادب په هغه ناول نګارو کښې شامل دے چې د روانې ،ساده اوعام فهمې ژبې او محاورې استعمال داصولو تحت برمحل کوي .د هغوي ټول لیکونه د دې خوبۍ نه مالامال دي او خصوصاً د ناول په حواله خو رحیم شاه رحیم یو وتلے او نومورے شخصیت ګڼلے او منلے شي. هغۀ د نورو ژبو د ټکو د استعمال نه ځان ساتي .سوچه ،عامه او روانه پښتو لیکي. ځکه خو ئې لیک په ذهن نه بوج کیږي او لوستونکي له خوند او مزې ورکوي. او دا د رحیم شاه صېب د ناول د کامیابۍ راز هم دے.

"سلطان سلامت یو زلمے شته چې عسکري خو نۀ دے ،ولې د اسلام خورولو د جذبې په خیال زمونږ سره ملګرے شوے دے د ډېرې پاکے کورنۍ سره تعلق لري.

"سلطان بیا تپوس اوکړو"

"دغه زلمے څوک دے؟

ابوالفتح عرض اوکړو"

سلطان معظم د دغه زلمي نوم خوشحال خان دے[xxii] "

غرض دا چې دا وړومبے او تاریخې ناول د فن او فکر په حواله ډېر لوړ او معیاري مقام لري چې د پښتو ادب سترو محققینو ورته د فن او فکر په حواله د پښتومعیارې او د ملاکنډ ډویژن وړومبے تاریخې ناول نګار( د ملاکنډ ډویژن تاریخې ناول وئیلے دے. رحیم شاه رحیم د تاریخې ناولونو په

سوب د ژوند د يوې حسينې او رنګينې نقشې سره سره د مسلمانانو د تاريخي بهادرۍ او اخلاقي رويو نمائنده افسانوي انځور خپلو لوستونکېو ته وړاندي کړے دے چې د علمي پنګې سېوا کولو سره سره يو عظيم مقصد هم لري ،چې په لوستونکېو کښې د مړانې او اخلاقياتو د روزنې سبب شي ـ

## References

1.Khalil- dc-M.Hanif-" pohkto novel( tehqeqi aw tanqede jaiza"- milat prentars- lahor- 1991- makh

2 . taizai- dc – sher zaman-" novel honar aw safar"-

3 Rahi- fazal rabi-" ghata khazana"-rahim shah Rahim- shoaib sanz publications- and booksilars- mengora swat- 2015- makh 7

4. Ali khail daryab- badshah-e-rom-" novlit da godar makham"-rahim shah Rahim- - shoaib sanz publications- and booksilars-mengora swat- 2015- makh 28

5. Rahi- fazal rabi-" ghata khazana"-rahim shah Rahim- shoaib sanz publications- and booksilars-mengora swat- 2015- makh 7

6. Semab- dc sher zaman- " da swat tarikhe aw saqafati ahmaiyat"-pekhawar- pokhto acidmee- pekhawar pohanton- 2018- makh 77

7. Asif- Muhammad-" tarikh e reyast swat" -shoaib sanz publications- and booksilars-mengora swat- 2009- makh 29

8. tahir- M. Nawaz- sariza novel" rajganna" Rahim shah Rahim- 1989-makh 19

9. Azam- dc M.Azam-" pokhto adab ki kerdar nigari"- pekhawar- university- pohkto acidmee- pekhawer-1993-makh 232

10. Rahim shah rahim-novel-"Rajganna - shoaib sanz publications- and booksilars-mengora swat- 1989- makh 28

11. Hom daga novel – makh 45

12. Maryam – bi bi – dc-" pokhto novel yawa tajziyati motakiyaa"-phd maqala- pokhto acidmee- pekhawar pohanton-2019-makh 42

13.Rahim shah Rahim-"Rajganna" shoaib sanz publications- and booksilars-mengora swat- 1989- makh 177

14. tahir- M. Nawaz- sariza novel" rajganna" Rahim shah Rahim- 1989-makh 19

15. .Rahim shah Rahim-“Rajganna”  shoaib sanz publications- and booksilars-mengora swat-1989- makh 55

16. Hom daga novel – makh-102

17. Hom daga novel – makh 28

18. Hom daga novel – makh 48

19. . Hom daga novel – makh 142

20. . Hom daga novel – makh 159/ 160

21. . Hom daga novel – makh 159/160

22. . Hom daga novel – makh 43